# سندريزې ساندي


شعري غونډ

شاه محمود کډوال

سندريزې ساندي
شعري غونډ
شاه محمود کډوال



شاه محمود کډوال



چاپ چارې:
مومند څېړندويه ټولنه- جلال اباد
اړيکشمېرې: ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱/۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱
ډيزاينر: رحمن الله بهير ۰۷۷۳۹۳۴۴۵۹

# سندريزي ساندي

شعري غونډ

شاه محمود ( کډوال )

۱۳۹۰ ل

## ډالۍ

درانه او قدرمن وګړني شاعر عاشق الله (فریاد) ته.

# تورتوتان له تا قربان !

ټول انسانان د الله ( ج ) له پنځونو څخه غوره هغه دي ، چې له نورو ژویو سره جوت توپیرونه لري ، د انسانانو یوه غوره ځانګړنه داده چې د عقل ، شعور او اند لرونکی دي .
اندوال وګړي د ټولنیزو پېښو غبرګوال او شنونکي دي ، هره پېښه چې په وګړنیـ ټولنه کې پېښېږي ، هغه د خپل اندیز ځواک په مرسته شني او بېرته یې ټولنې ته غبرګوي یا وړاندې کوي .
غبرګون یا وړاندېینه یا د وینا له لارې وي یا د لیک له لارې او یا د پوهونې د نورو لارو په وسیله . که پوهونه د ژبې په وسیله وي ، نو بیا به نظم ( شعر ) وي یا نثر .
شاعراو د هغه وینا ( شعر ) د ټولنیزو پېښو هنداره ده . شعر د وګړو د اړتیا او غوښتنو د څرګندونې وسیله ده ، خو په ځانګړې ژبه ، منځپانګه او دود . شعر د شاعر د ژونداو چاپیریال څرګندوی او ښکارندوی دی . شعر د پېښو پر وړاندې د شاعر غبرګون دی . شعر هغه خوږه او اغیزناکه وینا ده ، چې د ټولنیزو پېښو پر وړاندې د شاعر مینه یا کرکه څرګندوي .
زه د افغاني ټولنې د یوه غړي په توګه ، د ټولو هغو پېښو او اکرونو څخه اغېزمن یم ، چې په ټولنه او هېواد کې پېښې شوې دي . د یوه اندوال افغان په توګه مې پېښې او رښتیاینې شنلي او ټولنې ته مې وړاندې کړې دي .

زما لپاره د نورو لارو په پرتله ، ډېره اسانه لار ، دا وه چې د شعر یا نظم به بڼه خپل اند خپلو همځېلو ته ورولېږدوم . ټولنیزې پېښې مې ننګېرلي ، لیدلي ، شنلي او بیا مې خپله پرېکړه د شعر یا نظم په ژبه د خپلو وګړو پر وړاندې ایښې ده .
نږدې ډېر وخت کېږي چې د شعر یا نظم په ویلو او لیکلو کې ځان ازمویم ، خو پوهېږم چې یو نیمګړی شاعر یم . زه غواړم د شعر یا نظم له لارې خپل پیغام نورو ته ور ولېږدوم ، دې ته مې ډېر پام کړی نه دی ، چې پیغام په شعري ګاڼو سینګار کړم . شونې ده ، ځینې هغه لیکنې ټوټې چې په دې غونډ کې راوړل شوي د شعر اړین او ښکلاییز توکي ونه لري ؛ شعر نه بلکې نظم وي .
شعر لیکل مې له هغه وخته راپیل کړي ، چې ډېر تنکی ځوان وم ، د شعر په اړه مې معلومات هم نیمګړي وو . د زده کړې کچه مې هم ټیټه وه او نورې بېلابېلې ستونزې . کېدای شي د پېښو پروړاندې زما غبرګون او پرېکړه هم کمزورې وې او شعرونه مې ډېرې جولیزې او مانیزې نیمګړتیاوې ولري ، خو له دې ټولو سره سره بیا هم د قدرمنو لوستونکو نه د دې غونډ د لوستنې او خوښونې هیله لرم .

شا ه محمود کډوال

له ټولو ښکلی او ښاغلی اشنا
دې ټول بشر يې ته ستايلی اشنا
داستا ستايی، ته مې وينا نه رسي
نه هم قلم شي دا ليکلی اشنا
خلک پر تا باندې ډبرې ولي
ته ترې تېرېږې غلی غلی اشنا
کاشکې ستا غابښ نه وای سينه وای زما
ددښمن تيغ به يې خوړلی اشنا
چې ته ژوندی وې هله زه ژوندی وای
ژوند مې له تانه ځارولی اشنا
خيرکه ته نه يې خو ستا مينه کوم
ستا په لارځم او يمه تللی اشنا
ستا شفاعت ته يم اړمن زه کډوال
ته يې الله ته ډير منلی اشنا

ننگرهار

تول يې مه کړه څوک يې نشته برابر
له هرچا ځني مې ښکلی دی دلبر
دا همه واړه جهان ورته حيران دی
چې يې وګوري شرمېږي ترې بشر
زما ياره خوشبوداره مزېداره
په ښايست دې ښايسته دی لراو بر
د ښايست هومره يې زياته لا وفاده
ځاروي په يارانه کې مال او سر
نن د مينې په بڼ ګډ ناراسته مه شې
ځان دې مور کړه زما ګرانه په ثمر
راشه راشه ! خوبولی شه جنت کې
په سينه مې درجوړکړی دی بستر
خدايه ! ته يې له کډواله جلا نه کړې
ده خوښ کړی ستا بشر کې يو بشر

ننګرهار

یو انسان یم مسلمان یمه افغان یم
یو سرتېری د وطن یمه پښتون یم
انسانیت که اسلامیت که افغانیت دی
له پښتو سره یې ستایم یو ترون یم
سمه او غر یې د لیلا د ښایست بېلګه
دې هېواد باندې مین یمه مجنون یم
د غمو پسې یې لاس په توره ګرځم
خپل جانان ته د خوښیو په لټون یم
همیشه وایم چې ځار ترخپلو اکۍ شم
دې شعار باندې پوه کړی زه ژوندون یم
د وختونو کاروان مخکې زه پسې ځم
تر منزله به رسېږمه په یون یم
دا دوه نیمې لسۍ پوه کړمه کډوالـه
څه رانیسم څه پرېږدم په اوښتون یم

ننګرهار

يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
تــانــه قــربـــان محــمــد
زمــا مال او ځــان محمــد
داستــاپه وړاندې هيڅ دی
واړه جــهـــان مــحــمــد
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
ستــا پــه ستــايلــو ستــړی
چا چــې يــې تــه ستــايلی
ستــايی دې پــای نــه لري
کــه چــا هــرڅــو ويلـــی
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
ستــا د در خــاورې کــډوال
نــور نــه کړي چارې کډوال
ستــا د مــنــزل پــه لــوري
جــــوړوي لارې کــــډوال
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد
يا محمد يا محمد يا محمد يامحمد

هرڅو که بدرنګ وي خو هرچا ته دی خپل تن ښکلی
تا ته خپل وطن ښکلی ما ته خپل وطن ښکلی
دغه ښارې دښتې او میرې به پرې ور نه کړمه
هرڅو که ته وايې چې له ټولو دی لندن ښکلی
مورږ د خپل وطن هره دره کې یو کشمیر وینو
هرڅه دلته ښکلي دلته بوی دلته دیدن ښکلی
دا وطن مو مور ده د پښتو لاندې يې جنت دی
تل به يې خدمت کړو چې مو تېر شي ځنکدن ښکلی
وګوره کډوال هم د خوشال په لاره سم ورځي
نور يې جامې لرې کړې اغوستی يې کفن ښکلی

ننګرهار

۱۳۸۳

چاته یو یوم په لاس کې ورکړي او کرل ور زده کړي
چاته ټوپک په لاس کې ورکړي او وژل ور زده کړي
څوک د دنیا د ځمکو لارو کې لار ورکی ګرځي
چاته بیا ګوره د اسمان په لارو تلل ور زده کړي
څوک د منبر په څوکۍ کښېنوي روزي ورکوي
چاته رباب سره سندرې او ویل ورزده کړي
څوک پاچایان شي څوک پیران شي په سره یې ګټي
چاته د غرونو نړولو کې ګټل ور زده کړي
څوک د نفرت په اورکې وسوځي ایره شي
چاته د مینې سمندر کې ډوبېدل ور زده کړي
چاته یې دا دنیا جنت کړه خو هغه ترې اخلي
د چا بیا دې لوري ته شا هغې ته تلل ور زده کړي
څوک د کډوال په څېر ساده غوندې مین پیدا کړي
څوک د جانان په څېر ښایسته او ځورول ور زده کړي

ننګرهار
۱۳۸۲

زه کــه غــلام یــم د هــغــه یــم چې بــادار نــه لــري
نــه یــې هــم زوی شتــه پــه دنیــا کې او هــم پلار نه لري
لــه پیــر بــابــا نــه یــې زه نــه غــوارم پخــپلــه ورځــم
زمــا رښتیــنــه میــنــه داســې کــوم ریبــار نــه لــري
فکــر مــې تــل د ژونــد پــه پیــل او پــای خبــرې کــوي
پــه دې خبــرو کې مشغــول دی نــور څــه کــار نــه لــري
دا د ادم اولاد چــې خــدای (ج) لــه ټــولــو ښــه بللــی
زړه تــه مې خپل دي توراو سپین هېڅ کوم اغیــار نــه لري
پــه میــنــه میــنــه بــه یــې ســم کــړو د منــزل پــه لــوري
هــغــوی چې ورک تــریــنــه مــنــزل دی ورتــه لار نــه لــري
چــې د یــوبــل پښــو تــه پــرېــوځي او یو څه ترې غواړي
هــغــوی د هیــڅ پــه مــانــا بــولــه هېــڅ وقــارنــه لــري
کــه غــلامــۍ نــه هــرڅــو ځــان ساتــو کــډوالــه! نــه شي
یــو څــو منــونــکي دلتــه شتــه چې بــل څــه کــار نــه لري

ننــگرهــار
۱۳۸۳

زه چې گورمه سپوږمۍ ته هره شپه
په کې ښکاري یو تصویر د یوه ښکلي
په دې سیمه به قلم حکمراني کا
د ټوپک خاوندان نور له زور لوېدلي
د رقیب مرستې ته اړ یم مجبوري ده
گنې کله چا د بل کلي گټلي
چا چې خپلو ته کتل کول په بدو
هغوی گرځي په خواریو کې نتلي
دا د وخت بدلون هیڅ څه نه دی کډواله
موږه هرڅه په فکرونو کې ساتلي

ننگرهار
۱۳۸۳

ما د دښمن غشو ته ډال کړې خدایه !
یا مې میرویس یا مې خوشال کړې خدایه !
چې هر ډګر مې له رڼا نه روڼ شي
ما لکه شمع په کمال کړې خدایه !
که چیرته لیک شم د یادګار پرخلي
ته مې عمر او یا بلال کړې خدایه !
چې ختیځوال مې پر نامه وویاړي
لکه افغان مې په جمال کړې خدایه !
چې هم ددې شم هم د هغې دنیا
و هغه لور ته مې کډوال کړې خدایه !

ننګرهار پوهنتون
۱۳۸۴

الله (ج) منم رسول منم شریعت ټول منمه
خو بس یو داچې دې ملا راته موضوع جوړه کړه
دا د طالب او القاعدې او دموکرات ډرامې
څه موضوع نه وه امریکا راته موضوع جوړه کړه
اخر یې خپل کړ د ملالې او اکبر ټاټوبی
هسې په ټول یې ناروا راته موضوع جوړه کړه
اوس مې د کلي په کوڅو کې هیڅوک نه پرېږدي
جانانه ستا یوې خندا راته موضوع جوړه کړه
په ځان راټول یمه کډوالە ډېر ناهیلی شومه
په دغه کلي کې هرچا راته موضوع جوړه کړه

ننګرهار
۱۳۸۸

اخــــري ديــــدن مـــې وكـــــړه روانــېـــږم
ستــا لــه ستــرگو اشنــا نــور زه پناه كېږم
ځنــكدن كــې راتـــه سترگې ښكاره نه كړې
هســـې نــه چې بيــا به هلتـــه هــم څوريږم
نـــه بـــه بيــا ستـــاسـو پــركلــي كلـه درشم
څــه بــه درشم اوس خو هر څه نه زه لوېږم
ستا د مينــې ارمـانـونـــه مــې پــــرزړه دي
له ارمـانــه ډک زړگـى ورمـــه ختــمېـــږم
اوس مــې پرېــږده چې له هرڅه شم بې غمــه
لــه دردونــو نـــه نــور خـلاص او كراريږم
د پخوا په شـان دې هسـې زړگى سـخت كړه
پس لــه مرگه چــې زه ستــا كلــه يـاد بـږم
مـا خـــو ژونـــد داستـــا لپــاره پـــر دنيـــا كړ
چــې تــا پــريښــوم نور به څه دلته اوسېږم
دغـــه ژونـــد چـــې مـــا وو تــاتـــه در ښښـــلى
لـــه هغـــه نـــه زه اوس ورو ورو جــلاكېـــږم

که نصيب کې مې جنت شي سپينې حورې
بيا به هم زه تل په تا پسې ژړېږم
اخري سلګۍ مې راغلې شونډې راکړه
بيا مې پرېږده چې په سره اور کې سوځېږم
دا ستا مينې تورو خاورو ته ورکوزکړ
پر کډوال به څه تېرېږي نه پوهېږم

پاکستان
۱۳۷۷

انسانـــان خو را پیــدا ټـــول بختـــور دي
خو دا ځینـــې یـــې نږدې تر ځنـــاور دي
په حساب او په کتاب یـې باور نـه شي
پـــه وژنـــو ربـــړونـــو بـــانـدې ســـر دي
لـــه امیـــانـــو پټـــوي رښتیـــا خبـــرې
ډېر رټلـــي اوس ختــلـي پر منــبـــر دي
چې رالـــوی وي د انسان په غلامـۍ کـې
د بــادار(ج) لـه بنـدګۍ کله خبـر دي
دلته ښکلي هلتـه ښکلي خدای ستایلي
د اسلام بچـي لـه هـر چـا منـــور دي
خدای به ټول هغوی رسوا له موږ جلا کړي
چې پـــه مـــونږ کې ننـــوتـي په منتر دي
ظالــمان بـه ظالــمان بـولو کـډوالـه
خیـر که دوی اوس ښکرور دي زورور دي

ننـګرهـار

۱۳۸۲

وربـــل دې پـــاک کـــړه د بـــاروتو لـــه گردونـــو اشنـــا
پـــرې يـــوه نښـــه د سپرليـــو ښکلـــی گـــل کېـــږده
تـــه بـــه شـــهيد خـــو گـــوره خلـــک مـــې غـــدار بـــولي نـــن
گېـــډۍ د گلـــو دې لـــږ پـــټ زمـــا پرگوگـــل کـــېږده
نـــه اېســـي ښـــکلو ســـره دارنـــگې بدرنـــگه يـــاران
يوڅوخوشـــرويه او خوشـــبويه پـــر وربـــل کېـــږده
دوطـــن بـــڼ مـــې ســـوځېدلی بلبـــل هـــېڅ نـــه وايـــي
خـــوږې نغمـــې پـــر گـــونـــگه ژبـــه د بلبـــل کېـــږده
کـــه دې پرمينـــه او ايمـــان خلکـــو بـــاور ونـــه کـــړ
کډوالـــه مخکـــې ورتـــه هريـــو غـــزل کېـــږده

کابـل پـوهنتـون

۱۳۸۱

اوس ځوانان نشته دېرې نشته ترخې چې نشته
اوس پيغلې نشته گودر نشته او منگی نشته
اوس خو له خاورو نه هم ډېردي د دولت لېوني
خو د مجنون په شان د مينې لېونی نشته
دې ننگرهارخومې همیش لېموکې ځای ورکړی
ستا په کابل کې په والله د مېلمه ځی نشته
مينه دې لاړه اوس ماڼيو او موټرو وېوړه
زما غريب لپاره تا سره زړگی نشته
زموږه زړونه دې لالونه ټول له مينې ډک دي
کډواله خير دی که په جيب کې مو غمی نشته

ننگرهار
۱۳۸۲

ای د وطــن خلکـــو! د وطــن ارمـــان بـــه در شـــې
کلـــه مـــو چـې کـــور کلـی لـــه خپـل وطـن بهـر شـې
هلتـــه ټـــول پـردې پـردې مینـــه پـــه زړه نـــه لـــري
هروخــت بــه ژړېــږئ چـــې پـردو ســره مــو سرشـــې
کلـــه چـــې د بـــل وطـــن پـــه کلـو کـې منگـی گـورم
خپـــل د وطـــن پېغلـــې او رايـــاد راتـــه گودرشـــې
ورځ ده د قيامـــت پـــر مســـافروسترې ستـــرې دي
ډوب هـريـــو خولـــو کـې لـه يوبـل بـه څـه خبـرشې
خپـل وطـن کـې خلـک د يـو بـل پـه قـدر پـوه نـه وي
بـل وطـــن کـــې خلـــک د وطـــن زړه او ځيـــگر شـــې
بـل وطـــن خـو بـد وي ، خـو ډېـر بـد پـرمينـــانو وي
ســر پــر زنگنـو وي ميــن ناســت چـې مـــازيگر شـې
خدای (ج) دې هېڅ انسـان کډوالـه يـارځنې جلـا نـه کـړي
بـــار وړي د غمونـــو چـــې هـــر څـوک مـخ پـر سفـر شـې

ننـگرهـار
۱۳۷۸

بهرنــــي غلــه خــو مو وشـــړل پــه تــوره
خو د كـور له غلو نه خلاص نه يو لا مونږ
په دې خــاوره مــو سرونــه قــربان شــوي
څنگه يې پرېږدو اوس پردو ته وړيا مونږ
مونــږ يې وپلــوره ميراث پــر هغـو دغـو
خــداى خبــر كه بــه مــو وبښــي بـابا مونږ
دا چې نــن زمونــږ شملـو ته سلام كاندي
دغـــه ټـول مـو پــوهولي دي پښـوا مونږ
رقيبـــان بـــه مـــو لـه منځه ځــي كـډوالـه
كــه يـوبـل سره جرگــه شولـو پخـلا مونږ

ننــگرهــار
۱۳۸۱

بـې وفـا یار چـې بیـا رایاد نــه کړې
زړګیه ! نــور دې ځـان برباد نــه کړې
چـــې تـــه ژړېږې هغـــه ګـل ګــل شــي
پـه هغـه یار به دې ځان ښاد نه کـړې
ځمکـه اوس ټـوله لـه نفرت ډکـه شوه
د مینـې کـور بــه پـرې اباد نــه کړې
چـې د وفــا پـر لاره تلـل نــه ورځــي
لــه بـې وفا بـــه څـه مراد نـــه کړې
کډه واله بس دی نـور پـه زړه کې ژاړه
پـــه خولـه بـه نـور راته فریاد نه کړې

پـاکستـان
۱۳۷۷

ببګا مې خوب کې ليدل
يوځو ځوانان دکلي
چې وو غزا ته تللي
له يرغلګرو سره
دوی جنګېدلي وو ډېر
توري يې سرې ښکارېدې
ډالونه ټپ خوړلي
خو ګرد وهلو ځېرو
ډېره خوښي ښووله
شونډې مسکۍ مسکۍ وې
چې ننګيالو ځوانانو
له دښمن وړی ميدان
دا توريالي ځوانان چې
دکلي لور ته راځي
دکلي پېغلي ورته
دسروګلونو ګېډۍ
او د ستاينوګېډۍ
په خپلوسپينو لاسو
ددوی په مخ کې نيسي

له ډول اوازپورته شي
ځوانان اتڼ اچوي
غازیان سندرې وایي
دخوشحالۍ سندرې
دخپلواکۍ سندرې

کابل پوهنتون
۱۳۸۱

پر پردي وطـن مـړ کېـږمـه يـار نشته
اخــري ديـدن يې کـړم بيا ديدار نشتـه
ځنــکدن کې ټـول حالـونه ورتــه وايـم
پــه وتلــو مــې ده سـا انـتــظار نشتـه
اې زړگيه ! دادې واردی ځـان دې ښـايـه
اخري دی دغـه وخـت بيـا دې وار نشتـه
د زړگي باغچې مې لاړې سره لمبه شوې
اوس گلـونـــه او غوټۍ پـر گلـزار نشتـه
مـيـن نــه يـې چې خبرې د پېغـور کـړې
يـاره مينــه کــې غريـب او مالـدار نشته
چې هر زړه کـې محبت وو ښــې خبـرې
لــه ښـو خلکـو نـه اباد هغـه ښار نشته
د کنډوال زړگـی خـپــه لــه بــې وفــاوو
دادنـيــا ده بــې وفــا وفــادار نشتــه

ننــگرهـار
۱۳۷۸

پــه حجــاب کــې دې مــخ پــټ یمــه ســیځلی
کــه ښــکاره دې شــي رخســار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟
ســتا دیــدن زمــا خــوراک دی د زړه ســره
کــه قحطــي شــي ددیــدار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟
ســتا د مینــې پــه بــازار کــې ســوداګر یــم
کــه ویجــاړ شــي دا بــازار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟
بــس هغــه لپــاره اوســم پــه دنیــا کــې
کــه جــلا شــي رانــه یــار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟
دوصــال شــپه ده خنــدا ده خوشحالــي ده
کــه خــزان شــي دا بهــار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟
دا د کلــي د چنــار لانــدې دیــدن کــړم
چــې رقیــب وهــي چنــار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟
پــه خوښــۍ کــې راتــه ښــکلی غــزل وایــي
کــه کــډوال شــي نــاکرار نــو بیــا بــه څــه کــړم ؟

ننــګرهــار

چې اشنــا لاړه نــو یــاري پــاتــې ده
غــم اسویلــي شو زنــده ګي پــاتــې ده
چې نیمــه شپــه شي نو یادونه راشي
راتـــه دردونـــه شـــوګیري پــاتـــې ده
د وفـــا لار کـــې یـــار مـــزل پـــرېښـــود
لیـونــی ګــرځــم تــنهایــي پــاتــې ده
مــاویــل ګــل بــه کړم غوټۍ د زړګي
دغـــه ارزو مې اوس فـــانـي پاتـــې ده
چې نــه مستي شته نه خوندونه پکې
راتـــه یـــو دارنـګې ځوانـي پاتې ده
تــه خو خوبـونــه کړې د بل پر ځنګل
زمـــا لا مـیـنــه غــیـرتــي پــاتــې ده
خوشـحالي نشته دکډوال په ژوندون
ورتــه غـمــونــه شــاعــري پــاتې ده

پــاکستــان
۱۳۷۸

چې په یو ځلې ما لیدلې ده
هغه له هر چا ماته ښکلې ده
د بل په سترګو به بدرنګه ښکاري
ما د جنت حوره منلې ده
ددنیا خلک به پري تورونه وایي
ما له هر څه پاکه ګڼلې ده
دیار له زړه نه زړه جلا کړم څنګه
کړه د زړه مې ورته تللې ده
پرخوله شرمېږم هېڅ ویلی نه شم
مینه مې زړه کې غلې غلې ده
چې یار د بل شو نو خوښي به څه کړم
خوښي له مانه خپه تللې ده
که مینتوب وي تباهي دژوندون
ما کړوال دغه لار نیولې ده

پاکستان
۱۳۷۸

چې دې تورې زلفې ما باندې خورې شوې
زه یې بند کړمه په ځان کې زولنې شوې
خلاصېدل ترې د قیامت را رسېدل دي
د اسمان په لورې پورته مې ناري شوې
رنځېدل او ژړېدل مې په نصیب دي
چې د یار مې د زنځیر په شان وعدې شوې
له غمونو سره ناسته مې شوه بده
اوس ټول عمر له غمو سره مې شپې شوې
ستا په تلو مې اوس دغم ویاله دریاب شوه
سپینې اوښکې مې شوې وینې سترګې سرې شوې
چې ته نه یې که پرې ټول عمر بهار وي
ګل به نه شي زما د زړه ځمکې سپېرې شوې
ما اظهار کوه د مینې تا به نه کړ
حقیقي مینه زما اوس مسخرې شوې
زړه مې ورو ورو ستا له مینې نه تورېږي
چې راټولې دې په خوله کې بهانې شوې
مینه ډېره خوندوره کډوال حس کړه
اول ښې د مینې شپې وروسته ترخې شوې

ننګرهار
۱۳۷۸

چې سوځول يې کول تور غټې چشمان دې څه کړه ؟
د عاشق وينو کې رنګ سره سره لبان دې څه کړه ؟
چې به يې زړه وړه په زورله هر کتونکي ځنې
هغه د سترګو غشي او لښکريان دې څه کړه ؟
په هغو د غو به يې چې هر مين غولوه
ستا دځوانۍ دحسن هغه پوهان دې څه کړه ؟
چې توري سترګې يې ستا له اثر ډکې کړلې
هغه جادو دې څه کړه هغه پېريان دې څه کړه ؟
چې بند پربند دې پکې هر يو مين تړلی
هغه دامونه اشنا هغه زلفان دې څه کړه ؟
چې ستا د حسن به يې هميش ثناء ويله
هغه ستا مينه کې مست تکړه شېخان دې څه کړه ؟
چې د کډوال په فکر له بختورو ښه دي
په تور وربل کې ايښي ښايسته ګلان دې څه کړه ؟

پاکستان
۱۳۷۹

چې ښايسته پر سرو گلونو گلستان دی
د زمري په شان ټکره يې هر يو ځوان دی
د غيرت نه ډک ځوانان پکې تېرشوي
دا وطن د احمدشاه او خوشال خان دی
په ډېر مينه به ځان ځار کړو له وطنه
هر يوځوان کړی دا عهداوداپيمان دی
چې هرچا په کړو سترگو ورکتلي
نن هم ژاړي په وير شور او نالان دی
دا وطن د غيرتي خلکو مسکن دی
بې غيرتو ته جوړ شوی گورستان دی
دغه خړې سپېرې دښتې لوړلوړغرونه
له هر چا نه مونږته گران افغانستان دی
د وطن په ننگ کې مرگ راته لوړ ښکاري
ما کډوال ته بې غيرته مرگ ارزان دی

پاکستان
۱۳۷۷

خدای لپــاره پېغلــو او ځوانانــو يــو څــه ووايــئ
نــن پــر بــد حالــت د افغانانــو يــو څــه ووايــئ
څـو گيــدړان غــوارې پـر ځنــگلونو پاچاهي وکـړي
څنگــه غلــي ناسـت يــئ ای زمريــانويو څـه ووايــئ
زه افغانستـــان د هغـــو دغـــو حملـــو وران کـړمـــه
ټــول شــوم لوټــې لوټــې زمــا بچيــانويو څـه ووايــئ
نـورو تـه څـه رسـي مـونږ تـه څـه رسي پـر دې دنيـا
لـــږ پـــر دغـــو خواروانسانانـــويو څـــه ووايــئ
وښـايئ شـيطان چــې د ملـا جامــو کــې گرځــي نـن
پــورتـــه شـــئ ښاغلـــو عالمانـــو يـــو څـــه ووايــئ
ژونـد کـړوکنـډوالو کــې درقيـب زړه مـو لـا سـوړنه دی
نــوم زمـــونږ ورکېــږي شـازلميانو يــو څـه ووايــئ
ووايــئ يــو څــه چــې د کـډوال نـاوې وطـن گـوره
لــوټ شـولو عــزت يــې شـاعرانو يــو څـه ووايــئ

ننـگرهـار

خدایه (ج) راوورویې د رحمتونو باران
پر خړ وطن زمونږه د سرو ګلونو باران
مونږ ګنهکار یو خدایه خو ته رحمان یې بیا هم
پر مونږه ووروه د ثوابونو باران
میده میده شروع شو ورو ورو قدم اخلي ځي
د رازق حمد وایي تل د بهارونو باران
چې دښمنانو ته مو مونږ لاس نیولي نه شو
ستا له درباره غواړو د نعمتونو باران
چې مو وطن ورانوي په هغو دغو پلمو
خدایه پر هغو وکړې د عذابونو باران
دې څو بې دینو ته مو خدایه محتاجه نه کړې
خدایه راوورویې له اسمانونو باران
چې مونږ غوښته له خدایه کړه واله وورېده
د خوشحالیو باران د امیدونو باران

ننګرهار
۱۳۷۹

د خوښیو باغه څومره غلی غلی
د خزان له باده مې لرې وې ساتلی
خیر ارمان که مې په وینو کې لت پت دی
خو دښمن یې هم پر ځمکه پرېوتلی
د امو او اټک اخوا ته دښمنه
ستا د مکر جال نور نه شي غوړېدلی
غیرتي فکر مې تل د اسمان ستوری
د سنگر ملگري ماته دي ښوولی
احمدشاه ورته اغوستي دا جامې دي
کندهار زمونږ نظر کې دی ډېر ښکلی
تویوه اوښکې خو یاد لره اسمانه
د شهید یادگار مې هر مورچل نیولی
چاچې مونږ ته شمعې بلې کړې کډواله
د هغو یاد به پر زړه ساتو لیکلی

ننگرهار

د زخمـو د لاسـه شپـه شولـه شوګيـره
ددردونـو شپـه اوږده شـوه لـه تقديـره
زړونه سپين د هغه خوښ نه جامې سپينې
جنـت نشتـه پـه تسبـو او اوږده ږيـره
زنځيرونـو کې را بند لېونـي نـه دي
خلاص ګرېوان لېونيان ګرځي بې زنځيره
چې د بـدو سترګـو بـد نظر پـرې وشـو
لـوګي راغلـه لـه کابـل او له کشميره
کـه څـوک پوه په حقيقت ددې دنيـا شـي
پـه خـوی بـوی او پـه جامه به وي فقـيره
ای بلبلـه ! نغمـې وايـه د سپرليـو
پـه سنـدرو شـه د ښکلـي ژونـد بشيره
د کډوال سر د هېڅ چا پر لور ټيټ نه دی
بس هغـه تـه چې پاچـا دی بې وزيره

پـاکستـان
۱۳۷۸

د ژوندون کیسه بې خونده او سړه ده
هره خوا کې د مرګي ناره خوره ده
چېه خوله د لیونو په ښار کې ژوند دی
چې هر څوک شي ویندوی خوله یې کېږه ده
محبت له زړونو ورک مینه ده ورکه
هر سړی وایي دولت کې ښه مزه ده
پرېکول او سوځول ورځنی کار دی
دا کیسه خو له پخوا دلته زړه ده
پخوا لرې له یوبل نه هدېرې وې
ځای پر ځای دغه وطن اوس هدېره ده
د سهار رڼا ته ډېر په تمه ناست یو
له عمرو عمرو نه دلته نیمه شپه ده
پر ازل او پرقران اعتبار نشته
شیطان هر زړه کې پرې ایښې وسوسه ده
هدېرو کې څوک پراته دي نه یې ګوري

نه ځوک وايي چې د چا دا مقبره ده
خاوندان د هدېرو هم زمونږ خپل وو
چې پرې نن دغه سپېره خاوره پرته ده
نن هر څوک د ځان په ګټه کې لګيا دي
پته نه ده دا خبره ښه ښکاره ده
نصيحت درته کوي له کډوال واوره
دادنيا له ږه خوږه ډېره ترخه ده

ننګرهار
۱۳۷۷

د شــهیـد وطــن پــر غرونــو
وینــې تــوی شــوې د گلــونــو
دگــودر پــه غــاړه نــاست دی
ښکېلاک وینې څکـې د زړونو
دا ســرتــورې مــخ وهــونکـې
غیرت غــواړي لـه خپل ورونـو
ای شــهیــده ! ودان نـــه شــو
ستــا وران کــور د ارمانونـو
دخونــدونــویـاران ډېــر خــو
یــاران نـشــتــه د غـمــونــو
یـو دې مــخ څـو دې خېرې دي
تېـرا ېستــل کــړې پـه رنگونو
ډېــر مــو وژړل کــډوالـــه
هېــځ ونـــه کـړه ماتمونـو

پــاکستــان
۱۳۷۹

د کـــور خـــواتــــه دې زه تلمـــــه او را تلمـــــه
خـــدای نـــاتـــرســـه يـــاره تـــا بـــه نـــه ليدمـــه
د پـــردو پـــه شـــان تـــه هـــم اوس نـــه راګـــورې
تـــــا پـــــه زړه کـــــې هـــــر ســـاعت راياد ومـــه
دا ښايســـت د ګـــل ځـــواني بـــه مـــې خـــزان کـــړي
نـــه پـــوهېـــــږم يـــــار بـــه څنــــګه هېـــرومه
رنـــګ مـــــې ورځ پـــــر ورځ ژېـــړېــــږي خزانېــــږم
تـــه شـــــوې شـــمه زه پتنــــګ وسوځېــــدمه
خـــوار زړګيــــه ! ستـــاله لاســـه بـــه شـــم خـــاورې
ســـتا لـــه لاســـه هـــر وخـــت ستـــرګې ژړومـــه
دا دنيــــا ده ټـــولـــــو ښکلـــو څنــــې ډکـــــه
خـــو زړه وايـــي چـــې هغـــه يـــار نـــه پرېـــږدمه
راتـــــه مينـــــه لـــــه نصيبـــــه پېښـــه شـــوې

زه بــه څــه ســترګې لـــه خلكـــو شـرمومــــه
ستـــا د سـتـرګـــو شغلـــې ډېـــرې اثـــري دي
ســـوځوي مـــې ځــان بـــه څنـــګه خلاصـــومه
كـــه هـــر څـــو كـــوې ظلمونـــه خيـــر دې غـــوارم
زمـــا يـــار يـــې تـــل بـــه تـــا تـــه دوعـــا كـــړمه
تـــه خـــو ســـل د ورځـــې خپـــل او ســـل پـــردي كـــړې
زه بـدبخـــت يـــم چـــې پـــر تـــا مينـبـــدمه
ځنكـــدن كـــې بـــه كـــډوال خـــواردا وينـــا كـــړي
چـــې د يـــار مـــې اخـــري ديـــدن كـومـــه

د وطن پېغلې مې همیشس کړي پېغورونه راتـه
چې رقیبان مـو پـر سینو کـوي خوبـونه راتـه
چې مازیـگر اوبـو تـه ځم ځـو بد مخونـه وینم
زمـا د لیـدو لپـاره نیسـي گـودرونـه راتـه
افغاني پېغلو ویل پت باندې مونږ سر ورکوو
پـه ژوندانـه بـه رقیـب رانـه وړي لاسونـه راتـه
زلمیـه! پورتـه شـه تاریـخ د احمد شـاه تازه کړه
پـه دغـه کـوز او بـر کـې ونیسـه ملکونـه راتـه
دخپلـواکۍ پـه ورځ یـې وایمـه پـر لـوړو غرونـو
کډوالـه ووایـه یـو ځـو ښـکلي بیتـونه راتـه

ننگرهار

دا دکـور کلي خـبـره پـتهـول نـــه دي پـــه کـــار
زمـا میـــرانــه د نیکــونـــو هېـرول نـــه دي پـــه کـار
که اوسي دې وطــن کې هــر پـردی زمـونـږ مېلمـه دی
مشـــري د کاروانـــونـــو ورکـــول نــــه دي پـــه کـــار
دښمن دمیـرویس خـان زموږ دښمن دی په دې پوه شئ
دښمــن تــه دوست ویـــل او ورور ویـل نـه دي پـه کار
د خــدای مـهـربـانـي ده مــوږ لـه هـر څـه نه پوره یو
پـــرېمـــانـــه پرېمـــانـــي ده لاس نیـول نـه دي پـه کـار
کـــه کاڼـــي راتـــه راکـــړي پــه بدل کې یې یاقوت وړي
رقیــب نــه گــوره هېـڅ څـه اخستـل نـه دي پـه کار
دښـــمــن مـــو پـــه گلــونـــو کې راوړي زنځـیـرونـه
پـــه لـــوی لاس یــو انســـان تـــه ځـان تـړل نه دي په کار
کــډوال خــو بــه اخـرهــم تـورو خاورو ته ورکوزکړي
ارمـــان احمـــد شـــاهي یــې ښخــول نـــه دي پـــه کـــار

ننـگرهـار

دا څــرنګــې وطـن دی دا څــرنــګ خپـــلواکــي ده
چــې دوست ښــوولی نه شم دښمن ښوولی نـه شم
مظلوم ورور مې ځوړند دی په دار کې د تور مخو
پــټ پــټ پــه زړه کـې ژاړم ښکاره ژړلی نه شم
د خپــل پــلار پــه وطـن کې عـزت زمــا لــوټـېږي
هــر څــه پــرستــرګو ګــورم پرخوله ویلی نـه شــم
د فــکــر خزانـــه مــې څــو بـدې خــاطــرې دي
دا پـټــه خـزانــه مــې پــر کـاغــذ لیکلی نه شم
د خپلــو خویندو ورونـو عـزت خو مې لا څه کړې
نـن دومـره بې وسي ده چې خپل ځان ګټلی نه شم
هــر وخت پــرمــوږ تېری شي تېری مــوږه ونــه کــړ
پـخـپلـه پــاکـه خاوره کې پـردي لیـدلـی نـــه شـم
راځـــه وروره چـــې کښېنــو کډوال سره جرګه شو
تـــه مـــا وژلـی نـــه شـې زه تـــا وژلـی نـــه شــم

کـابــل
۱۳۸۰

دا څـه راپېښ شـو خدایـه څـه راپېښېږي نــن ورځ
لـکـه د گـل وطــن مــې پــر اور سوځــېږي نــن ورځ
ښکـاري لــه غتـو غتــو مونــږ گـنـاه غـتــه کـړې
ځکـه عـذاب راتلـونکـی هېڅ نه ختمېږي نن ورځ
د مور او پــلار پــه ویـنـو دورور او خـــور پـه وینـو
دوطـن خــړه ځمکـه څـه ســره ښـکارېږي نـن ورځ
پــه لـپــو لـپــو وڅکـــه د افـغــانــانــو ویـنــې
رقیبــه څــه چې غـواړې هغـه به کېږي نـن ورځ
مونږ په غیرت جذبه کې خپـل جوړ وطـن وران کړی
ناوې مــو کـونډې کـړلــې خواري ژړېږي نن ورځ
نــور ترېنــه ســا وتــې ده لــږ خـو یــې پرېږده کرار
پر دې شـهید وطـن مې څوک نه رحمېږي نن ورځ
که هرڅو وران وي وطـن کــه هـر څو سره لمبه وي
کـډوال تـرې کـډه نـه وړي دلته اوسېږي نن ورځ

۱۳۷۹

ددنیـــا پـــه زنـــدګۍ کـــې کلـــه تـــه او کلـــه زه
لېـونـــو کـــې حسـابېـــږو کـلـــه زه او کلـــه تـــه
د ژونـد انقلـابونو لـه هـر څـــه نـــه ناخـــبر کـــړو
ګرېـوان څيـرې څيـرې ګـرځو ببرسـري شـو سپېـره
دعاقلـــو بـــازار ســـوړ دی د مالـــدارو بازارګـــرم
نـن نوټـونه پیسـې غـواړي پـه سینـو کـې هریـو زړه
چـــې کـرې هغـه بـه رېبـې درسـیږي بـه خپـل کـړه
ددنیـا پـه دې بـازار کـې مونـــږه ولیـده هـر څـه
د ایمـان شـمله مـې هسـکه او لـا هسـکه بـه یـې غـواړم
چـــې شـــاه دی دشـاهانـــو زه کـــډوال یـــم د هـــغـــه

ننـــګرهـار

دومــره بس وو زمــا ښکليــه !
چــې يــو زه دې لېونــی وم
ښکلی مخ پټ په پرده کې !
چې يو ما ليده نو ښه وو
ستا د مينې په سوراور کې
يو زما سوځېدل بس وو
ښکليه ! تاته په کار نه وو
چې پرده کړې له مخ لرې
نو ، چې لرې دې پرده کړه !
اوس هر څوک درته رادرومي
لرې لرې چې خبرېږي
چې پيدا دی داسې ښکلی
نو ، په منډو منډو راشي
ای حسينې ! ستا ليدو ته
اوس زما له لاسه وځې
ښکليه ! ډېر دې مجنونــان شول
اول هغه وو بيا دا شول
وروسته دا او بيا هغه شول
اوس به تا له ما نه اخلي
ظالمانو وليدلې

زوروړو وليدلې
ښامارانو وليدلې
خو!
وعده كوم دلبره
له ښكلا به دې ځان ځار كړم
تا به نه پرېږدمه چاته
ترهغې چې زه ژوندى يم
دامې هوډ دا مې سوگند دى
تا به نه پرېږدمه چاته

ننگرهار پوهنتون

روان یـو مونـږ مـزل کړو خپـل کـاروان وړو مـخ پـروړانـدې
ځـوانــان وړو مخ پـر وړاندې ، ځـوانان وړو مخ پر وړاندې
د پــوهې زده کـوونـکي
رښـا خواتــه یـو تلونکي
د سولــې راوستونکــي
د پــوهې پــه رښـا کــې هــر افغـان وړومــخ پـــر وړانـدې
ځـوانــان وړو مخ پـر وړاندې ، ځـوانان وړو مخ پر وړاندې
اســـلام بــه خپـــروو
ځـوانــان بــه ویښــوو
تیــارې بــــه ورکـــوو
دا خپــل پاتــې وطــن بــه تــراسمــان وړو مـخ پروړانـدې
ځـوانــان وړو مخ پـر وړاندې ، ځـوانان وړو مخ پر وړاندې
راځـه دوطـن ځـــوانـــه
پــه تــوره پــه میړانـــه
ځـان ځـارکړو لـه افغانه
داهیـلــې د مـیـرویس او احـمـد خـان وړو مـخ پـر وړانـدې
ځـوانــان وړو مخ پـر وړاندې ، ځـوانان وړو مخ پر وړاندې
د بلــخ کـــه د تـخـــار یــو
پکتیــا کــه کنــدهاریـــو

له یواو بل نه ځاربو
مونږ ټول یو افغانان افغانستان وروو مخ پر وړاندې
ځوانان وروو مخ پر وړاندې ، ځوانان وروو مخ پر وړاندې
ژوندون د انسانیت
پریمانه محبت
مونږ غواړو یو وحدت
کډواله ! دا مو عذم دی انسان وروو مخ پروړاندې
ځوانان وروو مخ پر وړاندې ، ځوانان وروو مخ پر وړاندې

کابل پوهنتون

زما د عمرونو د ارمان په غېږکې
خیال مې ویده کړم د جانان په غېږکې
شین خالی ګورمه په شنه تکري کې
په شنه ګودر د شنه اسمان په غېږکې
د ننګ شهید مې ښېګا خوب کې ولید
چې یې پراته وو ډېر ګلان په غېږکې
خدای دې اباد لره د ګلو هاره
لرې ډېر ښکلي شاعران په غېږکې
دا هم مېوه ده ستا د مینې اشنا
چې وړم ریښې ریښې ګرېوان په غېږکې
څه ترېنه سرو څه ترېنه تورو وېوړه
هېڅ پاتې نه دي دافغان په غېږکې
په جنتونو کې مې شپه وه ښېګا
چې ومه پروت د هغه ګران په غېږکې
زما د کلي اندېوال اشنا
یو ځل خو راکړه داخپل ځان په غېږکې
که در رایاد شو رنځېدلی کډوال
هلته دی پروت د شین لغمان په غېږکې

کابل پوهنتون

زمونږ پـر کلـي ډېـر پــه غـلا تېـر شــوې
اختــره پـوه نـه شـوم کـوم خـوا تېر شـوې
تــا ســره نــــه وو د خوښيــــو زېــــري
پـــر ځمکـــه نـــه وې پـــه هـــوا تېـر شـوې
ښــکلي ښايســت دې هـــيڅ ازار نـــه کـړل څـوک
ډېـــر شـرمگـيـــره پـــه حـيــا تـېــر شــوې
اختــره ! مـــونږ وو نـــا اشنـــا تـــا ســره
تـــه هـــم لـــه مـــونږه نـــا اشـنا تېـر شـوې
لـــه ډېـــره وختـــه انتـــظار کـــې وو ستـــا
دا ځــل بيــا هـــم پـــه ماتـــه ملـا تېـر شــوې
ښـــکارې چـــې چـــا دې هـرکلـــی و نـــه کـــړ
پـــر سپېـــرو کلـــو پـــه ژړا تېـــر شـــوې
مـــا ويـــل ځـــه لـــږ پښـــه نيـولی بـــه شــې
پـــه ټوکـــو ټوکـــو کـــې رښتيـــا تېـــر شــــوې
کــډوال وو ناســـت د کلـــي مـــنځ کـــې درتـــه
تـــه پـــر بـــازو پـــاس د کـــلا تېـــر شـــوې

پاکستـــان

زمـــوږ د سفـــر بېـــړۍ اوبـــو ډوبـــه کـړه
د ژونـــد کولـــو مـــو اسبـــاب ورک دی
څـــو کـــونډې رنـــډې او تـــور سـرې راتــه
کـــوي پېغـــور لـــه مـــوږ ځـــواب ورک دی
د مـاتـــو ځـانـگـــو بلـبـــل داســـې وایـــي
نـــور لـــه سنـــدرو نـــه شبـــاب ورک دی
محفـــل کـــې نـاست څـــو بـې وفـا مطـرب تـــه
ځگـــه نـــو سُـــر اوس لـــه ربـــاب ورک دی
دانســـان وینـــو کـــې یـــې مـــه لټـــوه
خیـــر کـــه لـــه تـــا ځنـــې ثـــواب ورک دی
تـــاریخ پلـورونکـــو تـول پـــه بـل وپلـــورل
ځکـــه طالـــب ځنـــې کتـــاب ورک دی
کډوالـــه وگـــوره د یـــو کـــور ورونـــه
څـــوک تـــر کلـــاب څـــوک تـــر پنجـاب ورک دی

ننـگرهـار
۱۳۷۹

زه غــوټۍ وم غوړېدو ته چا پرې نه ښوم
په دنيــا کې ننــدارو تــه چـا پرې نه ښوم
ستــړی ستــړی د جانــان کـلــي تــه لاړم
خــو د خــوږ اشنا ليدو ته چا پرې نه ښوم
بس کابـو وو چې يې پل پر سينه کېږدم
تـرمنــزلـه رسيـدو تــه چـا پرې نــه ښوم
ما وې راشـــه د غيــرت خبــره ورښايه
لــه رقيب ســره پېښتو تــه چا پرې نه ښوم
ما وې غـم به د مستۍ په اور لمبـه کړم
ميخـانـه کې شنو پيالو ته چا پرې نه ښوم
لــه بېلتــون يــې زنګېـدلی ځـم پــر لاره
زه په زلفــو زنګېــدو تـه چا پـرې نه ښوم
په ژوندون مې زړګی ډک شو له داغونو
زه کډه وال يې رغېدو ته چا پرې نه ښـوم

ننــګرهــارپوهنتــون
۱۳۸۲

زه یم افغـــان افغانستــان پېژنــم
حُـب الوطن مــن الایمـان پېژنم
وطن تــه ځکــه محبـوبــه وایــمه
چې مسلمــان یمـه قــران پېژنم
زمـا زړګی پــربــل چا نه تېروځي
په ډېـروخلکو کې جانـان پېژنم
دملاالــی، تــوره مــې هېــره نـه ده
هم توریالی لوی احمد خان پېژنم
دښمــن خــو تــل غـدار خـادم ګڼلی
خــو زه غــدار اوخـادمــان پېژنم
د چــا په سپینو جــامو نــه تېروځم
زه مسلمان او هم شیـطان پېژنم
مراندې د عقل مې لا سستې نه دي
کډوالــه ځمکــه هـم اسمـان پېژنم

کابــل پوهنتــون
۱۳۸۱

ځوند مې داسې اشنا لوټ کړلو یارانو
لکه لوټ چې مې وطن کړو ټوپکیانو
څوک غداردی څوک اتل دی راځئ ورشو
رښتیا واورو له خوارانو کابلیانو
داهم دوی وو چې یې مونږه خوراکه کړو
د نړۍ د لویو لویو ښامارانو
ته رالوی په کاناډا او په پاریس یې
څه خبر یې په احوال د افغانانو
نه پوهېږو چې په چا پسې به درومو
هریو ډک دی له خویونو د لېوانو
په دې خپلو کې مو نشته د خیرښې
ځکه غواړو قافلې د انګریزانو
سد افسوس دی سد افسوس دی پرې کډواله
غلامي چې څوک کوي د بنده ګانو

کابل پوهنتون
۱۳۸۱

ستا د مینې دنیا ټوله غرونه
پکې نه کېږي نور تلل او نه مزلونه
ستا دمینې دنیا دښته او بېدیا ده
او سېدو ته پکې نشته دي کورونه
ستا د مېنې دنیا باغ خزان وهلی
هرڅه مړاوي پکې نشته دي ګلونه
ستا د مینې دنیا کور دی دظلمونو
قصابي ده حلالېږي پکې زړونه
ستا د مینې دنیا ورانه او ویجاړه
پرې لګېږي خړ سپېره سپېره بادونه
ستا دمینې د نیا ټوله د ازغو ده
هر قدم کې پرېکول دي او زخمونه
ستا د مینې دنیا سر تر پایه غم دی
چې کډه وال پکې ونه لیده خوندونه

ستا مینه کې مست وم زړه مې ښه وو هر یو کار ته
ته چې رانه لاړې زړه مې نه ورځي روزګار ته
تا ته په لیدو لیدو هرغم هېرېده له ما
ځان مې وو تېنګ کړی دوختونو هرګذار ته
ته چې پکې نه یې یاره زه به پکې څه اوسم
کډه ترېنه وړم بیا نه را ځمه ستاسې ښار ته
ژوند را باندې پېټی شو ماته ورته ملا زما
څنګه به شا ورکړم دغې پېټي او دې بار ته
تا خو مینه بنده کړه نه ځې او نه راځې اشنا
کلي ته درځمه زه کډوال دا ستا دیدار ته

سلګـو تــه رسېـدلي ارمانونــه مــې ژونــدي کـړه
سپرلیــه ! د ژونـد مړاوې سره ګلونـه مې ژوندي کړه
د غـم بـاران پـرې شوی چپـه خولـه دي هېڅ نه وایـي
دردونـــو خـــزان کړي خپـه زړونــه مـې ژونـدي کړه
ای خدایــه ! څو ګلونــه پـه ایروکې را زرغـون شـول
سـاتـونکـي ددې بـڼ تکـړه فکرونه مې ژونـدي کـړه
چـې وخـت دی د ویـلـو پرېږده ووایم پــه ډاګــه
ارمــان مــې څــو کلــن د زړه زخمونه مې ژوندي کړه
د مینـې څــراغ بـل کـړې د کنډوال تیـاره وطــن کــې
ای خدایـه ! تیـاره شـوي څراغونـه مـې ژونـدي کـړه

ننــګرهـار
۱۳۷۹

کاشکې لیونی وای په هېڅ څه نه پوهېدلی
څیرې مې ګرېوان وای ببرسری ګرځېدلی
خلک په یوه تلای زه په بله تری روان وای
دوی که ژړېدلی ما په ډکه خوله خندلی
پوه په ګټه نه وای نه هم پوه وای په تاوان زه
هغه مې کولای چې مې زړه راته ویلی
لرې وای له خلکو او ښارونو په بېدیا کې
یا د سیند پر غاړه یا پرغرونو واوسېدلی
نه وای د عذاب وېره کړه که ما ګناه چېرته
ناست وای د ساقي سره مې ډک جامونه څښلی
مینه مې په زړه کې یو د څیرې ګرېوان بس وه
دا د خمارو سترګو یاران مې نه لیدلی
نه به رنځېدلم د چا غم کې زه کډواله !
خیردی ماشومانو که په کاڼو زه ویشتلی

کابل
۱۳۸۰

کــه رنځـوریــم پــر بــدن چنـجــو خـــوړلی
خــو شــاکر یــم چــې خپلــواک یــم غلــام نــه یــم
میخـانـــه کـــې څـــو بـــې لـاري ورېم رښـا تـــه
زه پـــه تمـــه د نشـــو او د جـــام نـــه یـــم
حـــق بـــه پـالـــم زه د ســـر او مـــال پـــه بیـــه
طلبـــــگار زه د قـــــدرت او مـقـــــام نـــــه یـــــم
چـــې مـــې خـوښ کـړ اسلامیت او افغانیـت نـو
زه کـامیـــاب یـــم تـــر تلـــه نــاکام نـــه یـــم
ظالمـــان بـــه ټـــول کـــړم پـورتـــه د دار سـر تـــه
ویـــرېدونکی یـــې لـــه زور او لـــه قـــام نـــه یـــم
د شاعـــــر د خـــولې کـــلام پخـــه میـــوه یـــم
لـــه خوندونـــو ځنـــې ډک یمـــه خـــام نـــه یـــم
د لیلـــا د ســـپین ټټـــر پـــه شـــان سهـــار یـــم
تیـــاره نـــه یمـــه کډوالـــه مابنـــام نـــه یـــم

ننـگرهـار

گرانـــې نـوی ژونـد او حال دې مبارک شه
سره لاسونـه او سور شـال دې مبـارک شه
پېغلــو ډېـره په نخـــرو یې جـوړه کــړې
لکــه گل غونــدې جمـال دې مبارک شه
یو دې حســن قــدرتــې بــل د رنــگونــو
په تندې کې شینکی خال دې مبارک شــه
سر تر پایــه په ســرو سپینو کې یې پټــه
ښکلــې ! دا جــاه و جـلال دې مبارک شه
سره ډولۍ دې د کــډوال پر وینو رنــگ ده
نــوې یــار ســره وصــال دې مبارک شـــه

کــابــل
۱۳۸۰

لـاړې لـاړې شپـې شـوې تېرې ستـا د حســن
پخپــل وخــت کـې تــه هــم وې پاچـا د حســن
سرخیوالــی دې د ســرو اننـــګـــو ورک شـــو
نـــه هـــم تـــا ســره اوس شتـــه دنیـــا د حســن
د نـازونـــو وخـــت دې تـېـر پـــه تـېـریـــدو دی
یـــوه ورځ بـــه یـــې تـــه هـــم ګـدا د حســن
نـه دې ستـرګو کـې مستـي شتـه نـه خمـار اوس
نـــه بـــدن کـــې د ستـــا شتـــه ګـــډا د حســن
ډېـــر ډېـرخلـــک دې ستـــي او لېونیـــان کـړه
تـــه چـــې وې کـلـــه اشنـــا لیـــلا د حســن
ډېر بنـدیـان وو ستـا د حســن پـــه کـلا کــې
ورانـــه شـــوې ستـــا هـغـــه کـــلا د حســن
پـــر کـــډوال بانـــدې د یـــار نازونـــه بـــار بـــار
ورتـــه وایــــي شـــه غلـــام زمـــا د حســن

ننـګرهـار
۱۳۷۸

له هر منزل پاتې ناکام شوم
په بدو خولو کې یاد بدنام شوم
په میخانه کې کړې خبرې ددین
دداسې شخص په لاس کې جام شوم
له خپل منزل نه ناخبر روان یم
نه خو سهار نه هم ماښام شوم
چې ګناهونه پکې ځای لټوي
زه مقتدي ددې امام شوم
نور پکې ګیر وو ما لېدلې ورته
نن زه راګیر په هغه دام شوم
چې ترې ستې ټپې ټپې ګرځم
بیا زه ولاړ پر هغه بام شوم
خمارې سترګې یې چې تل یادوم
کډوال بیا ورته په پام شوم

پاکستان
۱۳۷۷

له وطنـــه مــې قــربـان دی مـــال او سر
زه ســاتــونکــی د وطـــن يـــم زړور
له نيکونـو په ميــراث ده راتـــه پـــاتــې
زه بـــه يــې ساتــم دغـه شاړې او دا غر
يو گذار بـه د دښمن ورتـــه پـرې نـړدم
ما نيـــولی لـــکـــه ډال ورتـــه تـــتـــر
له دښمن سـره وسلې او خلک ډېـر دي
ماتــه هېـــڅ دي دغـــه ډلې او لښکر
په شا تلل د جنگ ميدان کې له ما نه شي
تر هــغــې چې سر مــې کېـږدم پر ډگــر
ددې خـــاورو او د دښـتـــو قــدردان يـــم
لـکـــه قـــدر چـــې د زرو کـــړي زرگـــر
چې وطن کې هره خوا خنـــدا خوښــي وي
بس دا ورځ ده ډېره ښـه لـه لـــوی اختـــر
چـې پـــه هــره خېــره راشي ای رقيـبـــه !
ښاد به نه شې که دې ډېر وي زيـب وزر
د کدوال گذار به وران د دښمن کور کړي
هــر يــو شعــر يــې تېز گذار دی د خنجر

پـاکستـان

نــــه نیسم خپـــــل او نــــه بــــل چـــا تــــه گوتــــه
نــــه مــــې پــــه مــــخ ټــــولې دنیـــا تــــه گوتــــه
غـــوا کـــــه ده تـــــوره شـــــودې سپینـــــې کـــــوي
نــــه نیســــم زه امــــــي و مـــــلا تــــه گوتــــه
ټـــول د وطــــن پــــه ورانیــــدو یــــو مــــوږ گـــرم
ونیســــــم اوس او کــــــه پخـــــوا تـــــه گوتــــه
هســــې خــــادم او غـــــدار ورک دی لــــــه مــــوږ
زه نیســــــم تــــاتــــــه او تـــــه مـــــا تــــه گوتــــه
کډوالــــــه ښــــــه یــــو دې وطـــــن کـــــې غریـــب
چــــې ښــــوک مــــو نــــه نیســــي خمتـــا تــــه گوتــــه

نوی ځوان يم ځوانې هيلې راسره دي
د ليلا سره به خوب کړم پر بستر زه
مازيګر د پسرلي نری شمال دی
له جانان سره مې ناست يم پرګودر زه
دجانان خوږې خوږې خبرې واورئ
خلکو تاسو ته نن وايم پر منبر زه
خولګی راکړه خو د زلفو په پرده کې
چې رقيب ته ګرانې نه شم په نظر زه
خدای به راولي هغه وختونه ياره
چې دميني پيغام ويسم کوز او بر زه
خيال مې تاسره پر يو پالنګ ويده کړم
هېڅ هم نه وو چې راپورته شوم سحر زه
خدايه ! ستا په درکې يار غوښتلی نه شم
د کډوال لپاره ونيسم کوم در زه

ننګرهار
۱۳۸۰

هسې ګران خو راته هر څه نه خپل ځان دی
خو له ځانه هم بیا ګران راته جانان دی
بې وفا جانان مې داسې له ما ورک دی
لکه ورک چې له وطنه مې باران دی
یاره ستا د مینې دغه مېوه ګوره
چې ریښې ریښې مې پروت ځیرې ګرېوان دی
مازیګر دی خو د مینې کیسې نشته
په ګولیو لګېدلی ګودر وران دی
دا د یو او د یو څو خبره نه ده
تباهۍ پر لور روان پوره کاروان دی
دلته مونږ له تندې مړه وچکالي ده
هلته ګوره سیلابونه دي توپان دی
کډوال کړ وکړ د مینې په بوستان کې
زرغونتیا په انتظار دغه باغبان دی

ننګرهار
۱۳۸۰

هلته د کلي د خو پېغلو د پېغورله وېرې
تپې تپې يم خو بيا هم پروت يم سنگر ساتم
زه د شمشاد پرلوړه ناست يم گرد وهلې څنې
له وياړه ډک ښکلی وطن مې لر او بر ساتم
چې مې ويده احساس راويښ کړي د غفلت له خوبه
گرانې ! پيغور ته دې تل خلاص دغوږو ورساتم
ته دا زما د وطن پيغلې په عزت کې ساته
زه به نړۍ کې مشره تا تل شملور ساتم
چيرته رقيب مې د وطن پيغلو ته ونه گوري
زه د ديدن په تمه نه يمه گودر ساتم
زما پښتون سوگند هېڅکله ماتېدلی نه شي
وطنه ! تل به دې له ټولومنور ساتم
د دښمن تېغ به د وطن پرلوري پرې نړدمه
کډواله ! تل لکه دډال په خير ټټرساتم

ننگرهار

يـاره ډېــر زيـات شــول اوس پــر مـا غمونــه
څــه مــې وو خپــل او څــه شــو ســتا غمونــه
چــې كــوم خــوا ځــم د لــارې مــل وي زمــا
رانــه اوس نــه ځــي پــربل خــوا غمونــه
چې مـې خلاصـى اوس تربـنـه نـه شـي د ژونـد
خــود تيـرومــه پــه خنــدا غمونــه
يــو غــم خــو نــه دى چــې يــې وګــالــمــه
كلــه شــي هــغــه كــلــه دا غمونــه
د جـانــان مينــه كــې مــې شــک دى پــر زړه
وېــره كــې كــړمــه د وفــا غمــونــه
كــه پــه كعبــه يــا ميخانــه كــې نـاست يــم
راســره وي تــل د اشــنا غمــونــه
كــډوالــه داچــې تــا همــيش ژړوي
خــداى دې نــور كــړي تبــاه تبــاه غمــونــه

پاكستـان
١٣٧٧

پرغلګر نه یم پردي نه نیسم خو خپل نه پرېږدم
دا مې وطن دی دا مې خاوره ده کابل نه پرېږدم
دا خپل اغزي مې ترېنه ښه دي پرڅو وارې ګوره
زه د پردیو مکرجنو دلته ګل نه پرېږدم
زه هغه ځوان یم چې پګړۍ مې خپل ښایست ګڼلی
لکه د ځینو پر تندي باندې کاکل نه پرېږدم
نن که بې وسه یم دا نه ده چې مې پرېښودې ته
زه پیرۍ وروسته د خپل پلار نیکه قاتل نه پرېږدم
هر څه منم کدوالې زه خو دا یو دوه خبرې
چې پر افغان هېواد قانون او واک دبل نه پرېږدم

ننګرهار
۱۳۸۲

ځنگه چپ شوې اې زړگيه نه ژړېږې نه خندېږې
د ظالم يار پرظلمونو راته ښکاري اوس پوهېږې
تا خوځارکړ خپل ژوندون دهغې سترگو له خمارنه
بې وفانه مه کړه تمه نه به مړ نه به رغېږې
د ريبار له خولې چې اورې پيغامونه د پېغورته
مينه مينه نوره نشته ته نادان يې نه خبرېږې
دغه کلي او کورونه نور له مينې نه خالي دي
تشې پاتې کنډوالې دي چې اوس ته پکې اوسېږې
دا خواري د شگو بند دی په ټول عمر به جوړ نه شي
کله دم کله تعويذ شې ليونيه پرې غولېږې
په کوځه يې بيا ورنه شې ددېدن په تمه تمه
په څو ځلې يې رټلې په ژړا ترې روانېږې
د کنډوال ډېر اميدونه دې کړه خاورو سره خاورې
حيران گرځې ليونی شو ته له حال يې نه خبرېږې

ننگرهار
۱۳۷۸

په ژوند خو مې رانغلې جنازې ته مې اوس راشه
په سپین کفن کې تاو یم ننداري ته مې اوس راشه
چې مینې دې خزان او په اورونو کې لمبه کړم
د زړه خزان وهلې باغچې ته مې اوس راشه
چې تاته مې پرې مینه او وفا بیانوله
دزړه وینو کې رنګې هغې خولې ته مې اوس راشه
چې روح مې په زړګي وو رنځېدم به ژړېدم به
اوس ګونګه ژبه پروت یم تماشې ته مې اوس راشه
شهید یمه د مینې هدېره کې ښه معلوم یم
په تور لحد کې پروت یم هدېرې ته مې اوس راشه
رپ رپ مې دی د شناختو نورمې هېڅ نشته جانانه
خاموشه خاموشي ده مقبرې ته مې اوس راشه
چې ټوله رنځېدلې د مین زړګي ژړا ده
کدوال وایي د مینې دې کېسې ته مې اوس راشه

پـاكستـان
۱۳۷۸

## د شاه محمود کډوال لنډه پېژندنه

ښاغلی پوهنیارشاه محمود کډوال د ګل حمید خان زوی ، آر ټاټوبی يې د لغمان ولایت د کټېل کلی ، پر ۱۳۵۹ لمریز کال د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ ، د غازي اباد په سیمه کې زېږېدلی دی .

لومړنۍ زده کړې يې د غازي اباد په لېسه ، منځنۍ يې د نجم المدارس په عالی مدرسه او ثانوي هغه يې د هډې فارم په لېسه کې پر۱۳۷۵ کال بشپړې کړې دي .

د بېلابېلو ستونزو له کبله يې د زده کړې بهیر ټکنی اوپاکستان ته لاړ، خو بیا يې هم وکولای شول په ۱۳۸۱ کې د کانکورد ازموینې له لارې ځان د کابل پوهنتون ، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی کړي . هلته يې پښتو څانګه د زده کړې لپاره غوره او په زده کړه يې پیل وکړ .

هغه وخت پرکابل باندې د کوتکیانو او ټوپکیانوواکمني د کډوال لپاره لویه ستونزه وه چې له همدې کبله يې ځان ننګرهارته راتبدیل کړ چې څه نا څه له یادو ناروغانو خوندي وو .

کډوال په ډېره مینه د ننګرهارپوهنتون ، د ژبواوادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې خپلې زده کړې بشپړې کړې ، د زده کړې له پیل نه ترپای پورې په لومړۍ درجه کې وو او په لومړۍ درجه له يادې څانګې په ۱۳۸۵ لمریزکال کې بریالی ووت .

له فراغت وروسته د بغلان د لوړو زده کړو په موسسه کې د کادري غړي په توګه ومنل شو او نږدې پېنځه کاله کېږي چې د ښوونې اوروزنې پوهنځي په پښتوڅانګه کې په ښوونه بوخت دی . یو څه وخت د ښوونې او روزنې پوهنځي مرستیال او بیا د موسسې اداري مرستیال شو ، خو له وروستۍ دندې يې ځان ګوښه او په ښوونه بوخت شو .

کډوال په پوهنتون کې له زده کړې راپدېخوا له رسنیو سره ملګری شو . په لومړي سرکې د سیارې ( Sayara ) له د فتر او بیا يې نږدې ډېر وخت له انټرنیوز سره د ( پولې پورې ) په پروژه کې د خبریال په توګه کارکړی دی . یو څه وخت په ننګرهارکې د شرق راډیو خبریال هم وو .

کډوال پوهنتون ته ترراتګ وړاندې د مسافرۍ په چاپیریال کې ، يو نیم شعر لیکه چې پښتوڅانګې ته د راتګ لامل يې هم همدا وو. د زده کړې پرمهال يې لیکوالي هم ورسره مله کړه ، اوس په شاعرۍ او لیکوالۍ کې ځان ازمايي او يو شمیر لیکنې او شعرونه يې د هېواد او بهر په بیلابېلو خپرونو کې خپرې شوي دي

کډوال ددې ترڅنګ چې د پښتو ژبې او ادب يو څانګوال غړی دی ، په ژورنالیزم ، انګلیسي ژبه او کمپیوټرکې يې هم لنډ مهالې زده کړې کړې . د پښتو او دري ژبو ترڅنګ په انګلیسي او اردو ژبو هم پوهېږي .

پوهیالۍ روښن وطنپال



منته

ښاغلی الحاج وحیدالله ( ولیزی ) د وحید وهاج ودانیز شرکت مشر هغه مسلمان افغان ځوان دی ، چې د خپلو ډېرو نورو ښېګڼو په لړۍ کې یې یوه بله کړۍ هم ورزیاته کړه او ددې غونډ د خپراوي مالي لګښت یې پرځان ومانه . هغه غونډ ، چې کلونه کلونه کېږي ، خپراوي ته سترګې په لار وو ، خو ویناوال یې د خپراوي ځواک او وس نه درلود . د ستر ځواک الله ( ج ) څخه ورته د الفوز فی الدارین هیله لرم .
همدارنګه له درانه استاد فضل ولي ناګار نه هم مننـدوی یم چې د دې غونډ د نوم په غوراوي او نورې ښېلابېلې لارښوونې یې له ما ونه سپمولې .